PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

الهی فرمان

او هر څوک چې ونیسي شیطان دوست بې له الله نو په تحقیق ښکاره زیان یې وکړ، وعده کوي (شیطان) له دوی سره او په باطلو امیدونو کې یې غورځوي. او نه کوي وعده له دوی سره شیطان مګر په فریب، ځای ددوی جهنم دی او نه به مومي دوی (شیطان تابعان) له دې دوزخه د تېښتې هیڅ ځای. (سورة النساء: ۱۱۹ - ۱۲۱)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

دوه وږي لیوان د وزو یوې رمې ته دومره نقصان نشي رسولې څومره چې د مال حرص او حسد د مسلمان دین ته نقصان رسوي، حسد د مسلمان نیکی داسې له منځه وړي لکه چې اور لرګې له منځه وړي. (ترغیب)

شهادت دویم کال، ۷۹ مه ګڼه، چهار شنبه ۱۳۸۹ هـ ل د تله ۲۸ مه د۱۴۳۱ هـ ق د ذوالقعدة ۱۲ مه د۲۰۱۰ م د اکتوبر ۲۰ مه

با موافقت کرزی؛

فعالیت برخی از شرکت‌های نظامی در افغانستان رسمی شد

کابل، رسانه ها:
"حامد کرزی "به برخی از شرکت های خصوصی امنیتی که مسئولیت تامین امنیت نمایندگی‌های سیاسی و نظامی کشورهای خارجی را به عهده دارند اجازه فعالیت داد.
دفتر مطبوعاتی ریاست جمهوری افغانستان با انتشار اطلاعیه‌ای از دستور حامد کرزی مبنی بر اجازه فعالیت برخی شرکت‌های خصوصی امنیتی خبر داد.
بر اساس اطلاعیه دفتر مطبوعاتی ریاست جمهوری افغانستان، این شرکت‌ها مسؤولیت تامین امنیت نمایندگی‌های سیاسی و نظامی کشورهای خارجی را به عهده دارند.
در اطلاعیه آمده است که نگرانی فرماندهان نظامی نیروهای ناتو و سفارت های خارجی مقیم افغانستان در مورد تامین امنیت خود باعث شد تا حامد کرزی به برخی از این شرکت ها

بقیه در صفحه ۴

یک افغان در زندان نیروهای امریکایی در "قندهار" جان باخت

خبر گزاري فارس:
نیروهای امریکایی در افغانستان از مرگ مرموز یک افغان در زندان این نیروها در ولایت قندهار خبر دادند.
دفتر مطبوعاتی نیروهای خارجی در افغانستان از جان باختن یک زندانی افغان در زندان این نیروها در ولایت قندهار خبر داد.
بر اساس این اطلاعیه، نیروهای امریکایی عده ای افغان را در عملیاتی به اتهام همکاری با طالبان دستگیر و زندانی کرده بودند که روز گذشته جسد یک تن از آنان در سلول وی پیدا شد.
در روزهای اخیر یک نهاد غیردولتی امریکا از وجود زندان مخوفی در پایگاه بگرام خبر داد که افغان‌های زندانی در آن لقب "زندان سیاه" را به آن داده اند.
سابقه مرگ در زندان‌های نیروهای امریکایی در افغانستان و عراق بارها به رسانه ها درز کرده است و مرگ مشکوک می تواند نتیجه بدرفتاری با این زندانی افغان باشد.

افغان دولت له ناټو سره د ګډې قوماندې سیستم ناکام وباله

اسوشیتید پریس:
د افغانستان حکومت تېره ورځ وویل چې هغه سیستم چې هدف یې د حساسو عملیاتو په باب له افغان مقاماتو سره د نړیوالو ځواکونو سلا مشوره وه، ناموثره دی.
د اسوشیتید پریس خبري اژانس د راپور له مخې د ولسمشر کرزي ویاند وحید عمر وویل په بګرام کې چې د امریکایي ځواکونو مهمه اډه ده، د افغانستان د دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او ملي امنیت اداري مقامات ځای پرځای دي څو د افغانستان حکومت د پوځي عملیاتو په تېره بیا د شپې د حملو او د کورونو د تلاشیو په پرېکړو کې شریک وي.
خو د افغانستان د ملي امنیت شورا تېره ورځ په یوه غونډه کې دا سیستم ،چې ګډه عملیاتي قومانده یې بولي، بې اغېزې، ناموثره او بې ګټې وباله.
د ملي امنیت شورا په یوه اعلامیه کې وویل: "د ګډې عملیاتي قوماندې د کار نتیجه ناموثره ده." دې شورا وویل چې د عملیاتو په باب په پرېکړو کې له افغان وزیرانو سره پوره

پاتې ٤ مخ

استاد برهان الدین رباني :

د نړیوالو ځواکونو قانونمند کیدل د سولې له هڅو سره مرسته کولی شي

لوی افغانستان ویب پاڼه:
د سولې د عالی شورا ریس برهان الدین رباني وایی چی په افغانستان کی د بهرنیو ځواکونو د حضور قانون مند کیدل د سولې په پروسه کې ګټور واقع کیدای شي.

پاتې ٤ مخ

امریکا د افغانستان په مسئله کې د ایران رول په رسمیت پېژني

تاند ویب پاڼه:
د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا خاص استازي تیره ورځ په روم کې په داسې حال کې چې ایران د افغانستان په باب په خبرو کې ګډون کړی وو، وویل: د امریکا متحد ایالتونه دا په رسمیت پېژني چې ایران باید د افغانستان د لانجې په اوارولو کې رول ولري.
د ایران د حکومت یوه استازي تیره ورځ د ایټالیا په روم کې د افغانستان د تماس د ډلې په غونډه کې د لومړي ځل لپاره برخه اخیستې وه.
ایران تر دې وړاندې د افغانستان د تماس د ډلې په غونډو کې ګډون نه وو کړی.
په دې ډله کې د اسلامي کنفرانس موسسې د لسو هیوادونو په شمول د نړۍ پنځوس هیوادونه غړیتوب لري.
دوی د روم په غونډه کې د افغانستان امنیتي ځواکونو ته د امنیتي چارو د سپارلو په کار کې پر شوي پرمختګ خبرې وکړې.
د افغانستان او پاکستان لپاره دامریکا خاص استازي ریچارد هولبروک په یوه خبري غونډه کې وویل: "له موږ څخه وپوښتل شول چې ایا مشکل (له ایران سره) ورسره لرو،

پاتې ٤ مخ

د توبی شرایط
دریيم مخ

د یو لاسه ټک نه خیژي
دویم مخ

رسالت علماء و دانشمندان در نفی تهاجم فرهنگی
صفحه دوم

شورای عالی صلح از انتشار فراخوان ملی و بین‌المللی خبر داد

ثور ۱۳۸۹
کابل

کابل، رسانه ها:
شورای عالی صلح افغانستان از انتشار یک پیام به عنوان فراخوان ملی و بین المللی در روزهای آینده خبر داد.
شورای عالی صلح افغانستان در اطلاعیه ای از انتشار یک پیام خطاب به مردم این کشور و جهانیان در روزهای آینده خبر داد.
در این اطلاعیه به جزئیات این پیام و یا فراخوان عمومی مردم افغانستان اشاره ای نشده است.
شورای عالی صلح افغانستان روز چهارشنبه گذشته به طور رسمی آغاز به کار کرد.
این شورا اعلام کرده است که در نظر دارد به منظور آوردن صلح و ثبات و تسریع در روند مذاکره با مخالفان دولت افغانستان،

بقیه در صفحه ۴

بهترین راه آوردن مخالفین به میز مذاکره، وارد کردن فشار نظامی است

کابل رسانه ها:
در حالی که شورای عالی صلح افغانستان بالای میکانیزم کاری خود کار می کند تا مخالفین را بیشتر جلب کند، اما نیروهای بین المللی کمک به امنیت در افغانستان می گویند که آنان می خواهند فشار بالای مخالفین را همچنان نگهدارند.
جنرال بلاتس سخنگوی نیروهای آیساف در افغانستان به روز دوشنبه در کابل به خبرنگاران گفت، با آنکه آنان از تلاش های دولت افغانستان برای آوردن صلح و ثبات حمایت می کند، اما در عین حال به این عقیده است که برای آوردن مخالفین به میز مذاکره به آوردن فشار بالای مخالفین نیز ادامه می دهد.
وی همچنان گفت، نیروهای افغان و بین المللی هیچ گاهی از مناطقی که گفتگو های

بقیه در صفحه ۴

د ناټو یوه چارواکي وویل چې:

د بن لادن د اوسېدو ځای ورمعلوم شوی

امریکا، رسنۍ:
سي این این تلویزیون تیره ورځ د ناټو د چارواکو په قول راپور ورکړ چې د القاعده شبکې مشر اسامه بن لادن خپل مرستیال ایمن الظواهري ته نژدې د پاکستان د شمال لوېدیځ په یوه کور کې بې غمه اوسي.
سي این این وویل چې د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د یوولسمې نېټې د حملومسوول اسامه بن لادن د سیمې د اوسېدونکو او د پاکستان د استخباراتي شبکې د ځینو غړیو له لوري ساتل کېږي.
دې تلویزیون همداراز ویلي چې د القاعده شبکې دوهم نمبرمشرایمن الظواهري اسامه بن لادن ته نژدې اوسي.

پاتې ٤ مخ

سرمقاله — د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د سولې خبرې اترې بشپړ پام او احتیاط ته ضرورت لري

د افغانستان جنگ ځپلي او سولې ته لیوال ولس ته دا تر ټولو ښه زیری دی چې حکومت او مخالفو وسله والو ترمنځ د سولې خبرې اترې شوي دي او دواړه لوري غواړي چې دغه پروسه خپلې منطقي نتیجې ته ورسیږي. د پخوا په نسبت دا ځل دولس باور ځکه زیات شوی دی چې د بین المللي جامعې، گاونډي هېوادو لوړ پوړو چارواکو او د ملگرو ملتو د اداري مشر د سولې له دغو خبرو اترو سره بشپړ ملاتړ ښکاره کړی او ویلي یې دي چې د سولې د خبرو اترو د بریالیتوب له پاره به خپلې هلې ځلې ونه سپموي. همدغه راز دا خبره هم د خلکو له پاره د خوښی باعث گرځیدلې چې د افغانستان د ټولو گوندونو مشرانو او پر گنیو په یوه خوله د سولې د خبرو په ضرورت ټینگار کړې او خپل چمتووالې یې ښودلی ده.

له څه شک او شبهې پر ته دا لومړنی طلایي چانس دی چې د افغانانو په لاس ورغلی، نه ښایي دغه قیمتي فرصت له لاسه ور کړي، دې له پاره چې دغه د روغې جوړې پیل شوې پروسه مثبتې پایلې ولري او ټول په گډه د سولې او آشتې په ټغر کیني لاندې څو خبرو ته ضرورت لري:

۱- دواړه لوري په ځانگړی ډول حکومتي لوړ پوړي چارواکي له داسې پاروونکو څرگندونو څخه په کلکه ډډه و کړي چې مقابل لوري ته د ماتې او یا هم د کمزوري احساس ورکول کیږي، مثلاً داسې الفاظ دې کله هم د خولې ونه ویستل شي چې هغه د تسلیمی او ماتې معنی ورکوي، یا دا چې هغوی د حکومت په شرایطو خپله وسله پر زمکه ږدي، دا او ددې په څیر څرگندونې کولې شي د سولې بهیر ټکني او یا هم بالکل ختم کړي.

۲- امریکا او ناټو غړي هېوادو مشران او پوځي قوماندانان دی د سولې په دغو خبرو اترو کې په بشپړ ډول خپل بې پرېتوب او غیر جانبداري اعلان کړي د سولې په جریان کې دی داسې کوم بیان نه ورکوي چې هغه د ناټو د برلاسي او مخالفینو پر بې وسي دلالت کوي لکه چې تېره ورځ د ایساف ویاند جنرال بیلانس وویل: تر ټولو غوره داده چې مخالفین د نظامي فشار له لارې سولې ته اړ کړی شي دغه روان بهیر دی یواځې او یواځې افغانانو ته پرېږدي چې هغوی پخپله خوښه د خپلې خاورې او عقیدې د گټو په نظر کې نیولو سره روغې جوړې ته ورسیږي، او هغوی دې د افغانانو ددغې سولې درناوې و کړي.

۳- خبرې اترې دې له څه پیشکي شرایطو پرته پیل شي داسې دې هر گز ونکړی شي چې که فلان فلان شرایط نه منل کیږي نو خبرې اترې نشي کیدلې، مثلاً د اساسي قانون منل او داسې نور.

اساسي قانون قرآن نه دی چې پکې رد و بدل ونکړی شي، که چېرته د اساسي قانون په کومه ماده کې دهغوی په نظر څه نیمگړتیاوې نو د اصلي مرجعی له لارې دهغه په تکمیلولو کې دې ورسره بشپړه موافقه وشي ځکه چې دا د اساسي قانون توهین نه بلکې درناوې یې دی.

۴- د گاونډیو او نورو ټولو ذي دخلو هېوادو هغو فرمایشو ته دې بالکل ځای ورنکړی شي چې د افغانستان د مسلمان ولس ترمنځ د تفرقی او یا هم د هېواد استحکام او زمکني بشپړتیا ته تاوان اړوي. ټول پام او توجه دې په هغو ټکو متمرکز شي چې د هر څه دمخه د هېواد واقعي استقلال، اسلامي قانون، د خلکو په خوښه منتخب اسلامي حکومت او ملي وحدت پکې تأمین شوې وي.

که چېرته حکومت او مخالفین چې دواړه د افغانستان بچیان دي او دواړه یو شانته اسلامي او ملي دنده لري د خپلې اسلامي عقیدې، خاورې، استقلال او زمکني بشپړتیا په گټه خپل رسالت ترسره کړي نو په یقیني ډول ددې وړاند وینه کیدلې شي چې د سولې او روغې جوړې دغه روان بهیر به په بشپړ بریالیتوب ترسره شي او افغانستان به د استحکام،امن او پرمختگ په لور چټک گامونه اوچت کړي.

حکومت او مخالفین دی دا واقعیت ومني چې د هېواد استحکام، امن، ترقي او واقعي استقلال ددوی په اتفاق او یووالې کې دی، همدا راز گاونډیان، د سیمې هېوادونه او امریکا په شمول ناټو غړي هېوادونه دې هم دا واقعیت ومني چې مستحکم او مترقي افغانستان د گردې نړی په گټه دی، که دا ناارامه او ناامنه وي نو گرده نړۍ به ورسره ناامنه او پریشانه وي. ښه به دا وي چې د سولې دغه روانه پروسه په بشپړ اخلاص پرمخ بوتلل شي او له هر هغه اقدام او پاروونکو څرگندونو څخه په کلکه ډډه وکړی شي چې د جنگ لمنه نوره هم پراخوي او ټوله نړۍ له ناامنی او پریشانی سره مخامخ کوي.

اعزامی

رسالت علماء و دانشمندان در نفی تهاجم فرهنگی

بنابر اهمیت دین و فرهنگ در شرق اسلامی است که دشمنان اسلام، هر گاهیکه قصد سیطره جویی به جهان اسلام را نموده اند، نخست ارزش های دینی و نخبگان عرصهٔ علم و فرهنگ آن را نشانه رفته اند که امروزه از آن به نام "تهاجم فرهنگی" تعبیر می شود. اندیشه تهاجم کما آنکه در جریان جنگ های صلیبی در زمان کشور گشایی دول استعماری برای تصرف مستعمرات در شرق اسلامی رخ داد، زائیدهٔ برتری طلبی استعماریون بخاطر استیلا بر بلاد مشرق زمین می باشد و با نظریه پردازی های فتنه جویانهٔ افرادی چون (هانتینگ تون) پرچمدار جنگ فرهنگ ها و تمدن ها، اشاعهٔ پدیدهٔ استعماری جهانی شدن و توطئه های سازمان یافته دیگر، به اوج خود رسیده است که از جمله نشر و پخش کاریکاتورهای توهین آمیز در شأن پاک پیامبر بزرگوار اسلام صلی الله علیه وسلم بی احترامی، اهانت و سوزاندن قرآن مجید، دادن لقب شجاعت به عناصر واجب القتل و ملعونی چون سلمان رشدی و امثال او، فعالیت های آشکار مبشرین مسیحی در بلاد اسلامی، جلب و دعوت مسلمانان به آئین منسوخ و تحریف شدهٔ مسیحیت، از جمله مظاهر روشن و علنی توطئه های نامبرده شمرده می شوند.

تهاجم فرهنگی معاندین اسلام علیه دین و سایر مقدسات، توطئه ای تازه ای نیست، بلکه این سلسله در طول تاریخ به شیوه های گوناگون علیه اسلام و مسلمانان ادامه داشته و منبعد نیز ادامه می یابند.

ملت افغان در جریان اشغالگری نیروهای خارجی، طی دو قرن اخیر، شاهد صدها مثالی از این نوع توطئه ها در کشور شان بودند و حالا نیز وقتاً فوقتاً برای تخدیر و تحریف اذهان جوانان به این نوع دسایس دامن زده میشود که این ها همه یادآور تلاش های کین توزانهٔ دشمنان در سرزمین ها اسلامی در طول تاریخ می باشد. مگر بنابر روشنگری های بموقع و خستگی ناپذیر علما و دانشمندان مسلمان، این توطئه ها تا حدی خنثی گردیده و تیر دشمنان به خطا رفته است، ولی هنوز مواردی هم وجود دارند که جداً ایجاب عطف توجه و مساعی بی دریغ علما را می کند که البته بی تفاوت ماندن در برابر آن ها عواقب خطرناکی را در قبال دارد.

در کتاب (کنفرانس دست اندرکاران مسیحی در بین مسلمانان) می خوانیم که: "مسلمانان ادعا می کنند که اسلام به تمام نیازمندی های اجتماعی بشر پاسخ می دهد، بناءً بر ما تبشیریان لازم است که با اسلحهٔ فکری و معنوی به مقابله اسلام بپردازیم. "

در راستای همین دسایس، مسشرقین اسلام ستیز کتاب های زیادی را بر ضد دین اسلام نوشته اند، کتاب های که جز دشنام دادن به اسلام و مقدسات و ایجاد شبهات در باره اصول آن و همچنان وارد کردن طعن و توهین به رسول اکرم صلی الله علیه وسلم و آن هم بدون کدام دلیل و برهانی، بلکه فقط بر مبنای کینه و بغض معاندانه، چیزی دیگری در آنها سراغ نمی شود. بطور نمونه دایره المعارف (تاریخ بشر و پیشرفت های فرهنگی و علمی آن) که به اهتمام مؤسسهٔ یونسکو نشر گردیده، در فصل دهم آن ناسزاهای زیادی را به آدرس اسلام نثار کرده است.

از جمله موارد تهاجم که متأسفانه امروزه جامعه ما را با مجوز رسمی و صبغهٔ قانونیت تهدید می کند، ازدیاد بی رویهٔ رسانه های همگانی تصویری، صوتی و چاپی می باشند که به استناد قانونی که هر سال روی آن تجدید نظر صورت میگیرد و در مواد آن تعدیل می آید، بطور آشکارا و وقیحانه، ارزش های دین و معتقدات مردم مسلمان را زیر سوال برده و اخلاق جوانان ما را فاسد می کنند. با وجودیکه علماء و دانشمندان مؤمن از ارگان ها و نهاد های رسمی و غیر رسمی کشور هر از چند گاهی صدای اعتراض شان را درین مورد به مراجع مربوط و حتی به سمع زعامت دولت رسانیده اند، اما تا کنون درین راستا کدام توجه جدی مبذول نشده و حتی در کم و کیف نشرات مبتذل آن ها افزود نیز بعمل آمده است. بناءً بر روحانیون و علمای متعهد است که در صدد پیدا کردن راه و چاره ای شوند تا مسؤولیت تبلیغ و پیام رسانی شان به اهداف عالی اش نایل گردد و ملت مسلمان در میان امواج متلاطم شرارت ها و فتنه های زمان، باز هم شاهد حقانیت، تفوق، علو و گسترش اسلام عزیز به مصداق (الاسلام یعلو ولایعلی علیه) باشند.

د یو لاسه ټک نه خیژي

محمد خلیل

د کائناتو خالق او مالک ذات چې د آدم اولاد ته کوم عقل او پوهه ورکړی مسلمانان یې له هغې نه دي محروم کړي، بلکې رښتوني مسلمانان د عقل او پوهې په ډگر کې له بل هر چا زیات عقل او پوهه لري. هغوی په بشپړ ډول کولې شي چې د حق او باطل په مسائلو کې پوره توپیر وکړي او حق له باطل نه جلا کړي.

امریکا او دهغه حواریونو د تاریخ په اوږدو کې د خپلو اسلافو په څېر تل زیار ویستلې دی چې د ژوند په ډگر کې له مسلمانانو سره د متقابله احترام پر ځای د ضد، عناد او نابرابری په فضاء کې ژوند تیر کړي او هر وخت په ناحقه د تشنج د پیدا کولو او بې ځایه د مسلمانانو د پارولو او دهغوی د جذباتو او احساساتو د مجروح کولو دندی پرمخ بوځي.

تاریخ گواه ده چې د فلسطین او د منځنی ختیځ په ټولو لانجو کې امریکا او ملگرو یې تل لپاره د یهودانو د کلک ملاتړ په صورت کې د مسلمانانو د پارولو او دهغوی د جذباتو د مجروح کولو پرته بل کوم مثبت رول نه دی لوبولې او کله یې هم داسې نه دي کړي چې د مسلمانانو د روا حقوقو دترلاسه کولو له پاره خپل ناپلیې او عادلانه رول لوبولې وي.

امریکا چې د نړی په هر گوټ کې له مسلمانانو سره د میرې مور کوم سلوک کوي او د ځورونې کوم مثالونه قائموي له هغو نه، نه سترگې پټېدلې شي او نه هم هېرېدلې شي. د منځني ختیځ په لانجه کې د یهودانو پرله پسې ملاتړ په حقیقت کې د امریکا له خوا د مسلمانانو پرمخ درنې څپېړې دي چې تر ننه یې وهي. څو میاشتې وړاندې بارک اوباما په ډېر شد او مد د فلسطینیانو او اسرائیل ترمنځ د روغې جوړې پروسه پیل کړه او نړیوالو ته یې داسې ښکاره کړه چې گویا امریکا په واقعي معنی د فلسطین د شخړې حل غواړي. داسې معلومیده چې دواړه لوري به ډېر ژر سولې ته ورسیږي مگر څو ورځی مخکې نتن یاهو د فلسطین په مقبوضه سیمه کې د یهودي ناقلینو لپاره ددوه نیم سوه نورو کورونو د جوړولو د منظورې په ورکولو سره د سولې ددغې پروسې پرمخ یوه بله درنه څپېړه ور کړه او یو ځل بیا یې دا په ډاگه کړه چې د سولې خبرې اترې هڅې ملنډې دي چې موږ او امریکا د اوږدې مودې نه پر فلسطینیانو وهو.

صومالیا، سوډان، فلپین، کشمیر، چیچین او د نړی په نورو اسلامي هېوادو کې چې امریکا له مسلمانانو سره کوم له توپیر نه ډک پالیسي پرمخ وړي مسلمانان له هغه نه لوی رنج وړي.

په عراق او افغانستان کې د بې گناه مسلمانانو په ناحقه وژل، بیا دخپلی قهرمانی د ښودلو په خاطر دهغوی د بدن ځیني غړي ساتل، د الله تعالی د آخري کتاب د قرآن کریم او نورو مقدساتو بې حرمتي هغه ناوړه عملونه دي چې د مسلمانانو د ځورولو پرته بله هیڅ معنی نه لري.

صدام حسین ته د اختر په ورځ پانسي ورکول او بیا گردی نړی ته دهغه د فلم ښودلو یواځنی مقصد دا و چې مسلمانان وځوروي، ویې پاروي او له جذباتو سره یې لوبې وکړي، که نه نو د اختر په ورځ صدام حسین ته د پانسي ورکولو او بیا نړی ته دهغه د فلم د ښودلو څه ضرورت و؟ د جرم په دنیا کې خو اسرائیلي چارواکی هغه وحشي او بې رحمه انسان وژونکې ځناور دي چې له غاښونه یې همیشه د لکونو فلسطینیانو د وینو ځاځکې بهیږي. خو مسلمانانو یوه ورځ هم چېرته دا ونه لیدل چې امریکا خپلو داسې داړونکو ځناور صفتو وحشیانو ته سزا ورکړي او هغوی د پانسي په تخته ځړولی وي.

که امریکا واقعاً انسان وژونکې مجرمان له صحنې نه لیرې کول او هغوی ته عبرتناک سزا ورکول خپل دنده گڼي نو بیا د اسرائیل دغو وحشي چارواکو ته ولې سزا نه ورکوي، یا لږ تر لږه دهغوی له ملاتړ نه ولې لاس نه اخلي؟ ! ډېر افسوس چې تر اوسه امریکا او انډیوالانو یې د نړی د مسلمانانو په گټه داسې کوم عادلانه او منصفانه گام نه دی اوچت کړی چې د مسلمانانو زړونه یې ترلاسه کړي وی.

په عراق او افغانستان کې چې د ترهگری په خلاف د جگړې تر عنوان لاندې امریکایي پوځیانو له بې گناه او مظلوم ولس سره د ظلم، بربریت، بداخلاقي او فحاشي کوم وحشیانه سلوک کړی دی د هغوی په لیدو له سترگو نه د وینې اوښکې ځاځي، د ترهگری په گمان کې له نیول شویو بندیانو سره چې د جرم له ثابتیدو وړاندې کوم غیر انساني سلوک کیږي او هغوی له مورنه د نوې پیدا شوې ماشوم په څېر لوڅوي او د کبانو په شان له لاندې باندې اچولو وروسته عکسونه یې راوباسي دهغوی په لیدو سره د مسلمانانو په زړونو کې اور بلیږي او دا

پاتې ۳ مخ

د توبې شرایط

عبیدالله صافي

په دې کې هیڅ شک نشته چې انسان کامل نه دی، که څومره کوښښ وکړي بیا هم ځینې وخت په ګناه کې اخته کیږي. خو د اسلام سپیځلی دین مسلمان کله هم د الله له رحمته نه ناامیده کوي. هر وخت چې یو مسلمان ته د خپلې غلطۍ او ګناه احساس وشي، پر هغه پښیمانه، او له خپل رب نه بخښنه وغواړي نو الله تعالی هغه ته له ټولو ګناهونو څخه د بخښنې ضمانت ورکوي لکه چې پخپل کتاب قرآن کریم کې فرمایي:

ژباړه: ((ای پیغمبره ! زما هغو بنده ګانو ته چې پر ځانونو یې تیری کړی دی ووایه چې د الله له رحمت نه مه مایوسه کیږئ ځکه چې الله ټول ګناهونه بخښي، او بې شکه چې هغه ښه بخښونکی او ډېر مهربان دی.)) (الزمر: ۵۳)

د البقرې په آیت کې داسې دي:

ژباړه: ((خو پر هغه چا به لعنت نه وي چې له ورانی څخه ببېرته وګرځي، ځانونه روغ، نیکیو ته مخه، او ښوونې بیان کړي، ددغو خلکو توبه به زه منم، زه توبه منوونکی او مهربان یم.)) (البقره: ۱۶۰)

د التحریم په یو آیت کې داسې فرمایي:

ژباړه: ((ای مؤمنانو ! الله ته په رښتینې توګه د زړه له کومې رجوع وکړئ، کیدای شي چې رب مو ګناهونه ورژوي او هغو جنتونو ته مو چې لاندې له ونو یې ویالې بهیږي داخل کړي.)) (التحریم: ۸)

د نصوحاً معنی په عربي کې خلوص او خیرخواهي‌ده، یعنې سړی داسې توبه وکړي چې په هغه کې د ریاء او نفاق هیڅ څرک موجود نه وي. انسان د خپل ځان خیر وغواړي، له ګناه نه د زړه له تل نه توبه وکړي او خپل ځان له بدانجام نه وساتي.

د توبې د قبلېدو لپاره شرطونه:

د توبې د قبلیدو لپاره څو شرطونه دي که په توبه ویستونکی سړي کې دغه شرایط موندل شي نو الله تعالی دهغه توبه قبلوي او بخښنه ورته کوي دهغوی په اړه د توبې په سوره کې داسې ویل شویدي:

ژباړه: ((دهغه له مالونو نه زکات او خیرات راواخله او په دې توګه یې له ګناهونو پاک او کړنی یې پاک او غوره کړه او دعا ورته وکړه بې شکه چې ستا دعا هغوی ته ډاډ وربخښي، الله پاک ښه اوریدونکی په هر څه ښه عالم دی. آیا مسلمانان په دې نه دي پوه چې الله د خپلو بنده ګانو توبه مني دهغوی خیراتونه او زکاتونه قبلوي او همدا الله ښه توبه منونکی او ډېر مهربان دی)) (التوبه: ۱۰۳—۱۰۴)

له پورتني آیتونو څخه دغه لارښوونې ترلاسه کیږي:

که له کوم مؤمن سړي نه ګناه وشي او هغه د خپلې ګناه اعتراف وکړي نو هغه ته بخښنه هم کیږي، صدقات یې هم قبلیږي، او د رحمت دعا هم ورته کیدلی شي. دا هر څه هله کیږي چې دهغه له کړنی او عمل څخه دا څرګند شي چې:

* هغه د خپل ګناه لپاره د بې ځای عذرونو، غلطو تاویلاتو او توجیهاتو د وړاندې کولو پر ځای د زړه له کومې پر خپلې ګناه اعتراف کوي.

* دهغه تیر ژوند او کړنو ته کتل کیږي چې عادي مجرم خو نه دی، آیا هغه پخپل تیر ژوند کې له اسلام سره واقعاً مخلص و او که نه؟

* دهغه راتلونکی ژوند ته به کتل کیږي چې پخپلو ګناهونو رښتیا پښیمانه، خفه، پریشان او ناکلاره په نظر راځي او که نه، آیا د خپلو ګناهونو د تلافی لپاره عملاً کوښښ هم کوي او که نه.

محدثینو حضراتو چې ددغوآیتونو د نزول په باره کې کومه واقعه بیان کړیده دهغه تفصیل د حضرت ابو لبابه (رض) بن المنذر او دهغه د شپږو ملګرو په باره کې داسې راځي:

ابولبابه رضی الله عنه دهغو خلکو له جملې څخه و چې د بیعت عقبه په وخت کې له هجرت نه مخکې په اسلام مشرف شوې و، بیا د بدر، احد او نورو جنګونو کې هم ګډون کړی و، مګر د تبوک په جنګ کې د نفس کمزوري پر هغه غلبه وکړه او د څه شرعي عذر پرته وروسته پاتې شو، دهغه په څېر دهغه ملګري هم وو، چې د نفس کمزوري ورباندې غلبه کړی و. کله چې محمد صلی الله علیه وسلم د تبوک له غزوې نه تشریف راوړ او هغوی ته معلوم شو چې په تبوک غزوه کې د نه ګډون کوونکو په باب الله جل جلاله او دهغه رسول څه رای لري نو هغوی ډېر پښیمان او پریشان شول، لدینه مخکې چې محمد صلی الله علیه وسلم له هغوی نه د نه ګډون کولو په باب پوښتنه وکړي هغوی خپل ځانونه د خپلو کورونو ستنو پورې وتړل او ویې ویل چې پر موږ تر هغه خوب او خوراک حرام دی تر څو چې موږ لپاره بخښنه نه وي شوې او یا مړ شوي نه یو، هغوی څو ورځې همداسې په لوږه او بې خوبۍ تیری کړې او بالاخر له بیهوشۍ نه پر زمکه وغورځیدل، کله چې هغوی ته دا زیری ورکړی شو چې الله او دهغه رسول ستاسې ګناه بخښلې ده نو هغوی محمد صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړ چې زموږ په توبه کې دا هم شامل دی چې د کوم کور سهولت موږ د جهاد په څېر له لوی فرض نه غافل کړي یو، هغه او خپل نور ټول مال او حال د الله په لاره کې صدقه کوو. خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: د ټول مال ورکولو ضرورت نشته صرف دریمه حصه کافي ده، هغوی په همغه وخت د خپل دریمه حصه د الله په لاره کې وقف کړ. پر دغه کیسه له غور کولو وروسته دا خبره څرګند شو چې د الله په نزد د کومو ګنهګارانو لپاره بخښنه وشوه، دغو ټولو له وړاندینه له اسلام سره خلوص او مینه درلوده، کله چې له هغوی نه تبوک غزوې ته په تللو کې سستي وشو نو هغوی فوراً خپل قصور ومنله او دې لپاره بې ځای معذرتونه او بهانې وړاندې نه کړی، بلکې عملاً دا ثابته کړه چې هغوی واقعاً پښیمانه او د خپل ګناه د تلافي لپاره ډېر زیات پریشان او سرګردان دي.

دغه پورتنۍ واقعه دیته هم اشاره کوي چې د ګناهونو د تلافي لپاره د ژبې او زړه له توبې سره عملي توبه هم پکار ده، د عملي توبې یو شکل دا دی چې د الله په لار کې مال خیرات کړي. (تفهیم القرآن، دویم جلد، ص ۲۳۰ - ۲۳۱).

کله چې یو بدوي له حضرت علی رضی الله عنه نه د توبې په باره کې پوښتنه وکړه نو هغه رضی الله عنه ورته شپږ شرطونه بیان کړل.

۱- کومه ګناه چې ترینه شوې پر هغې پښیمانه وي.
۲- کوم فرایض چې ترینه پاتې شوي دي هغه ترسره کړي.
۳- د چا حق یې چې خوړلې هغه ورته واپس ورکړي.
۴- چاته چې تکلیف رسولې وي له هغه نه بخښنه وغواړي.
۵- راتلونکې لپاره کلک عزم وکړي چې بیا لپاره دا کار نه کوي.
۶- خپل نفس د الله په لاره کې مصرف کړي او د اطاعت مزه ورباندې وڅښي. (تفسیر کشاف)

د توبې په لړ کې یو څو مهم کارونه نور هم دی چې پر هغوی پوهېدل خورا ضروري دی.

لومړی دا چې له ګناه نه یواځې په دې خاطر ډډه وکړي چې دا کار له الله نه بغاوت او سرغړونه ده. که چېرته په دې خاطر له ګناه نه ډډه کوي چې دا کار د صحت لپاره تاواني دی یا هم ورباندې بد نامیږي او یا هم هسې په دې کار کې ورته مالي زیان دی نو دا د توبې په تعریف کې نه راځي.

دویم: کله چې یو مسلمان ته دا احساس وشي چې هغه ګناه کړیده نو سمدلاسه توبه وباسي او له څه تاخیر پرته د خپلې ګناه تلافي وکړي.

دریم: له توبې وروسته خپله توبه بیا بیا ماته نکړي او پرهغې ګناه اصرار ونکړي چې توبه یې ترینه ویستلې ده که داسې وکړي نو دا په دې دلالت کوي چې هغه په دروغو توبه ویستلې ده او هیڅ ډول اخلاص پکې نشته. ځکه چې د توبې اصل روح له ګناه نه پښیماني ده او بیا بیا د توبې ماتول ددې خبرې ګواهي ورکوي چې دهغه د توبې ترشا هیڅ قسم پښیماني نشته.

څلورم: کوم سړی چې د زړه له تل نه توبه ویستلې وي او ددې خبرې کلک عزم کړی وي چې بیا لپاره به دا ګناه نه کوي خو که احیاناً د انساني کمزوري له مخې دغه ګناه بیا وکړي نو مخکینی ګناه یې نه تازه کیږي، البته هغه ته پکار دي چې له دغې وروستی ګناه نه هم توبه وباسي او کلک عزم وکړي چې بیا لپاره به توبه نه ماتوي.

پنځم: که توبه کوونکی ته کله خپل مخکینی ګناه په یاد شي نو د توبې تازه کول ضروري نه دی. لیکن که دهغه نفس د خپلې تیری ګناه خوند اخلي نو هغه ته تر هغې بیا بیا توبه ویستل پکار دی چې دهغه نفس د لذت پر ځای ندامت او شرم محسوس کړي. کوم سړی چې واقعاً د الله له ویرې له ګناهونو نه توبه کړی وي دهغه نفس د خپلې پخوانی ګناه څخه خوند نشي اخستلی، لدینه خوند اخستل په دې خبره دلالت کوي چې د الله ویره دهغه په زړه کې جرړې نه دي نیولي او له الله نه باغي دی.

لیکنه: استاذ مصطفی سباعي
ژباړه: ډاکتر غنچه ګل ارمان

د حضرت عثمان رضی الله عنه ژوند په څو کرښو کې

* د فیل د کال (هغه کال چې الله جل جلاله بیت الله د ابرهه د لښکرو له یرغل څخه وژغوره) په پنځم کال زیږیدلی.
* د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات پر وخت ۵۸ کلن وو.
* حضرت عثمان رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له دوو لوڼو، رقیه او ام کلثوم رضی الله عنهما، سره واده کړی او دواړه د هغه په ژوند وفات شوي.
* د هجرت د ۲۴م کال د محرم په میاشت کې د ۷۰ کلنۍ په عمر د مسلمانان خلیفه وټاکل شو.
* له ۱۲ کاله خلافت وروسته یې د هجرت د ۳۵م کال د ذی الحجې په میاشت کې د ۸۳ کلونو په عمر د شهادت جام په سر واړاوو.
* د هغه رضی الله عنه یوه له نیکو او تلپاتې کارنامو څخه د یوه مصحف په بڼه او په یوه قرائت د قران کریم راټولول وو.
* د ۹ زامنو او ۸ لوڼو پلار وو.

نوم او تبر یې:

* نوم یې عثمان د عفان بن ابی العاص بن عبد شمس بن عبد مناف دی چې اموي قریشي وو.
* د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مبارکې زوکړې یې پنځه کاله وروسته نړۍ ته سترګې غړولي او د هغه د بعثت پر وخت ۳۵ کلن وو.

ځانګړتیاوې یې:

نازک پوستکی او زړه راښکونکې او غنم رنګې څیره یې درلوده. ډیره یې ډکه او د سر پر مخکنۍ برخه یې ویښتان نه درلودل. د پیاوړو لاسونو او غښتلو متو څښتن وو.

مسلمانیدل یې:

د جهالت پر وخت هم پاک لمنی، د ورکړې او ښه خوی لرونکی انسان وو. هوښیارۍ او فکري پوخوالي یې نوم درلود. همدا لامل وو چې د ابوبکر له خوا د اسلام د منني له بلنې سره سم یې حق ته غاړه کیښوده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندې یې خپل ایمان په ډاګه کړ. کله یې چې تره (حَکَم) له مسلمانیدو خبر شو، په ځنځیر یې وتاړه او ور ته یې وویل:

آیا د خپلو نیکونو له دین څخه اوښتی یې؟ په خدای قسم تر هغه به دې خوشې نه کړم تر څو چې له نوي منلي دین څخه نه یې راګرځیدلی.

عثمان وویل: په خدای قسم چې هیڅکله به هم له دې دین څخه بیل نه شم. کله یې چې تره ترې نهیلی شو، خوشې یې کړ.

له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره:

حضرت عثمان رضی الله عنه د ایمان او اخلاص بیلګه وه چې خپل ځان، شتمني او سوکالي یې د الله په لار کې ښندلي وو. له مسلمانیدو وروسته یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لور، رقیه سره نکاح وکړه او له هغې سره یې یو ځای حبشې ته هجرت وکړ. له راستنیدو وروسته یې مدینې منورې ته هجرت وکړ او د بدر له غزا پرته چې د ناروغۍ له کبله یې پکې ګډون و نه شو کولی، له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې په ټولو غزاګانو کې برخه اخیستې. د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور او د عثمان میرمن، رقیه، د اُحد د غزا په کال وفات شوه چې له هغې وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله بله لور، ام کلثوم، ورکړه چې د ذوالنورین لقب یې له همدې ځایه سرچینه اخلي.

عثمان رضی الله عنه د امکاناتو او وسایلو د وړاندې کولو له پلوه د تبوک غزا د لښکر په چمتو کولو کې کارنده ونډه درلوده.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ور ته په ژوند د جنت زیری ورکړ.

هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغو نږدې دوستانو څخه وو چې خپل ټول وس او شته یې د اسلام د خپراوي او پیاوړتیا له پاره د هغه په واک کې ورکړي وو.

د ابوبکر او عمر د خلافت پر مهال:

د ابوبکر او عمر د خلافت پر مهال د حکومت له لوړپوړو سلاکارانو او هغو کسانو څخه وو چې د سترو پیښو پر وخت یې فکر او رأیه د باور وړ وه تر دې چې د حضرت عمر (رض) له شهادت څخه وروسته د مسلمانانو خلیفه وټاکل شو.

د خپل خلافت پر مهال:

حضرت عثمان رضی الله عنه د شپږو مشرانو صحابه وو له ډلې څخه د خلافت له پاره وټاکل شو. خلکو ور سره بیعت وکړ. د خلافت موده یې ۱۲ کاله وه چې لومړي شپږ کاله یې ډیر بریالي وو او مسلمانان د امنیت او سوکالۍ له نعمت څخه برخمن وو. له هغې وروسته د عبدالله بن سبا یهودي تر مشرۍ لاندې یهودي دسیسې او چلونه پیل شول چې له کبله یې د خلافت په وروستیو شپږو کلونو کې مسلمانان له تیتوالي او بیلوالي سره مخ شول.

حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه په پای کې د فتنو د څو بدو سرلارو او ناارامي غوښتونکو له لاسه شهید کړای شو. (انا لله و انا الیه راجعون)

د یو لاسه تک نه ...

د انسانیت ستر توهین بولي، ځکه چې د مسلمانانو په دین او ثقافت کې د یو انسان لوڅول قطعي حرام او له قتل نه هم بد ګڼل کیږي. مګر امریکا او انډیوالان یې دا کارونه صرف دې لپاره کوي چې مسلمانان ورباندې وځوروي. څرګنده خبره ده چې دداسې اعمالو په ترسره کولو سره نه یواځې دا چې د نړۍ د مسلمانانو او امریکا ترمنځ د کړکې خلیج پراخیږي. بلکې د روانې جګړه لمنه نوره هم د نړۍ ګوټ ګوټ ته غځیږي تباهی پرته بل هیڅ ګټه نه لري. که امریکا یواځې د افغانستان په څیر په یو وړوکی هېواد کې د نهو کلو په اوږدو کې د خپلو مخالفینو سره په جنګ کې د سمندر نه د ځاځکي هومره هم بری نه دی ترلاسه کړې په لویه او پراخه نړۍ کې به بیا څنګه او په کوم جادو بری ترلاسه کړي؟ آیا دا به ښه نه وي چې په ګرده نړۍ کې د سرتاسري امن د ټینګښت په خاطر امریکا خپل پوځي او مالي ځواک په مثبتو لارو کې واګوي، له مظلومانو سره د ظلم پر ځای دهغوی لاس نیوې وکړي خپل ټول قوت په نړۍ کې د امن د ټینګښت او د انسانیت د خیر او ښیګڼې لپاره وقف کړي، پر اسرائیلو فشار واچوي چې فلسطینیانو ته خپل حق ورکړي دهغوی مقبوضه سیمې خوشې او د یو آزاد فلسطین هېواد په توګه ومني، په مسلمانو هېوادو کې د دیموکراسي نظام د پلی کولو پر ځای د خپلې خوښې حکومت جوړولو ته پریږدي، له ټولو هغو کړنو څخه په کلکه ډډه وکړي چې د مسلمانانو د آزار او د هغوی د پاریدو سبب ګرځي.

که امریکا واقعاً پخپلې اوسنی پالیسي له سره بیا کتنه وکړي او د زور د کاروني پر ځای له نرمي او خواخوږۍ نه کار واخلي نو له څه شک پرته ویلې شو چې د بې باورۍ او کرکې دغه لګیدلې اور به په ډېره آسانی مړه شي او نړۍ به د امن او اعتماد په خوږه فضاء کې ژوند تیر کړي.

شهادت اوونيزه

خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانگه

د امتياز څښتن حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدير عبدالله کامه وال

مرستيا ل مدير عبدالخليل (محمد خليل)

داريکي شمبره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

ديزاين خواجه وحيدالله

د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس دحزب اسلامي دفتر سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

ناټو د طالبانو د وسلو د اکمالاتي لارو د بندولو ادعا وکړه

کابل، رسنی:
په افغانستان کې د ناټو ترمشرۍ لاندې نړيوالو ځواکونو تيره ورځ وويل چې افغان او نړيوالو ځواکونو د افغانستان په ځينو سيمو کې د دولت د وسله والو مخالفانود مرستو لارې بندې کړي او دا کار سبب شوی چې هغوی خپلو حملو ته د دوام ورکولو او د وسلو د رانيولولپاره له عامو خلکو پيسې وشکوي.
په کابل کې د ناټو ځواکونو د قومندان ويانـد بريدجنرال جوزيف بلاخ (Josef Blotz) وويل: "موږ داسي موارد وينو چې طالبان د خپلو اکمالاتي چاينلونو په وسيله وسلې او مهمات نيمگړي ترلاسه کوي.موږ حتی داسي مثالونه هم ليدلي چې د طالبانو ويانـد د دې ستونزې پړه د ايتلافي ځواکونو (افغان+ نړيوال)په غاړه اچولي ده."
د ناټو ځواکونه وايي طالبان هڅه کوي چې لـه دې ستونزې سره ځان عيار کړي. ايتلاف دا مسله د طالبانو په وړاندې د ولسمشربارک اوباما د نوې ستراتيژۍ د بيا کتنې په درشل کې د هغې د پرمختگ نښه بولي.
اسوشيتيد پريس خبري اژانس وايي د ناټوپوځي چارواکي ادعا کوي چې افغانستان ته د لسگونو زرو نورو عسکرو استولو د وسلـه والو طالبانو په وړاندې په مبارزه کې په تېره بيا د افغانستان په جنوب کي بدلون راوستی دی.
جنرال بلاخ وويل: "يوه لاره چې طالبان يې د وسلو د کموالي له ستونزې سره د مقابلې لپاره کاروي دا ده چې بلواگر د افغانستان له کليوالو څخه د غيرقانوني مالي اخيستل زيات کړي."
ده زياته کړه: "دوی د افغانستان د کندوز په شمالي ولايت کې له کروندگرو باج اخلـي.د بزگرو په پيسو د حملو لپاره کار اخلي."
هغه دا هم وويل، چې افغان او ناټو ځواکونه بـه هيڅکله له هغو سيمو په شا نـه شـي، چې د سولې خبرې په کې په پام کې نيول شوي: "د خبرو ميز ته د وسله والو مخالفينو د راوستلو تـر ټولو غوره لار پر دوې پوځي فشار تـه دوام ورکول دي، دا په دې معنې، چې موږ هيڅ داسې کومه اراده نه لرو، چې ايساف او يا افغان ځواکونه له هغو سيمو، چې ممکن خبرې پـه کې وشي بهر کړو،موږ له هيڅ يوې سيمې خپل ځواکونه نه په شا کوو."
بلاخ همداراز وويل چې په وروستيـو دوو اونيو کې د دوو ځانبولو طالب واليانـو پـه شمول د هغوی شپږمشران وژل شوي او يـو والي يې د افغانستان په لوېديځ کې نيـول شوی دی.
ده دا هم وويل چې ايتلافي ځواکونو تېره اوونی په خوست او پکتيکا کې د طالبانو د وسلو درې لويې زېرمې کشف کړي دي.

افغانستان د نړۍ والو رسنيو په هنداره کې

نړيوالو ورځپاڼو انډيپنډنټ او واشنگټن پوسټ په خپلو وروستيو گڼو کې د افغانستان په اړه بېلابېل مطالب او تحليلونه خپاره کړي چې لنډيز يې دلته لوستلای شي.

انډيپنډنټ:
د لندن چاپ انډيپنډنټ ورځپاڼه په خپلـه وروستی گڼه کې په يوه مقاله کې په کنـدهـار کې د روانو عملياتو په اړه تبصره لري چې پـه يوه برخه کې يې راغلـي، د دې عـمـليـاتـو وروستی او ډيره مهمه مرحله دوې ورځې وړاندې په کندهار کې د وسله والـو پـر يـوه مرکز په هوايي حملو پيل شوه.
پر پنجوايي د امريکايي، کاناډايي، بريتانوي او افغان ځواکونو حمله د هغه پلان يوه برخه ده چې هدف يې له وسله والو د سيمې پاکول او د انگورو له باغونو لارو او سرکونو تـه د هغوي رايستل دي.
د کندهار کنټرول د افغانستان لـه جگړې د بهرنيو ځواکونو د وتلو د ستراتيـژۍ عـمـده برخه ده. په افغانستان کې د ناټو او امريکايي قواوو قوماندان جنرال ډيويډ پټرويس ويلـي چې په کندهار او د دې هېواد پـه ختيـځ او لويديځ کې د جگړې شدت د لږ تر لـږه ۳۰۰ وسله والو طالبانو د وژل يا ټپي کېدو سبب شوې دې.
د انډيپنډنټ ورځپاڼه په وروستی گڼه کې پـه مقاله کې ليکي چې د افغانستان د حکومت او وسله والو مخالفينو ترمنځ شپږ ډول مذاکرې روانې دي.
د ورځپاڼې په ليکنه په دې کې ځينې مذاکرې تر نورو مهمې دي اوهدف يې د اوربند او لـه افغانستان څخه د بهرنيو ځواکونو وتلو لپـاره لاره هواورول دي.

واشنگټن پوسټ:
واشنگټن پوسټ ورځپاڼې هم د افغانستان پـه اړه په يوه مطلب کې د خالص شينوارې په نـوم يوه افغان پر ژوند ليکنه خپره کړې.
خالص شينوارې وسله نه لـري خو د ـکلي سپينږيرو له غلو غـدويـو پـه سيمـه کـې د بيارغونې د پروژو د ساتلو مسوليت ور په غاړه کړې دې،ويل کيږي په افغانستان کې چې اداري فساد بې ډيرې بنسټيزې اداري متاثره کړي دي دا ډول اقدامات خوشبينې زياتوي.
د ورځپاڼې په ليکنه، امريکا چې په افغانستان کې يې له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې ډيرې خو بې ثمره هڅې وکړې اوس عامو وگړو ته مخه کړې ده.
امريکا اوس غواړي چې د عامو خلکو پـه مرسته له اداري فساد سره مبارزه وكړي، پـه داسې حال کې چې د حکومت په لوړو خانو کې اداري فساد خلک په غصه کړي دي پـه ټيټ رتبه دفترونو کې د دې ستـونـزې موجوديت د افغانستان مرکزي حکومت بې اعتباره کړې دې.
د واشنگټن پوسټ په وينا، ضعيفه اداره او پـه ولاياتو کې په پراخه کچه د اداري فساد موجوديت خلک له طالبانو سره يوځاې کېدو ته مجبوره کوي.
خالص شينواري په دې اړه واشنگټن پوسټ ورځپاڼې ته ويلي چې خلک لـه دې حالت څخه ستړي دي خو چاته د زړه خواله وکړي؟

فعاليت برخی از شرکت‌های ...

اجازه فعاليت دهد.
بنابر اين، شرکت‌های امنيتی خصوصی کـه مسئوليت تامين امنيت داخل سفارت خانه ها، محل سکونت ديپلمات‌هاي خارجي و تاميـن امنيت پايگاه‌هاي نظامي نيروهاي خارجـي در افغانستان را به عهده دارند؛ مي توانند در همان محدوده فعاليت داشته باشند.
بر اساس اين اطلاعيه، ساير شرکت‌های امنيتي خصوصي بدون استثنا لغو خواهند شد.
رئيس جمهور افـغـانـسـتـان چـنـد مـاه قـبـل شرکت‌هاي خصوصي امنيتي را بـه ايـجـاد ناامني متهم کرده و دستور لغو آنهـا را صـادر کرد.

شورای عالی صلح از انتشار ...

فراخوانی ملی و بين المللی را منتشر کند.
در جلسه روز گذشته شورای عالی صلح، کـه دومين جلسه رسمی آن به شمار مـی رود، در مورد وظايف و دستورالعمل‌های کاري شورا، بحث و گفت و گو شده است.
شورای عالی صلـح بـرگـرفتـه از "جـرگـه مشورتی صلح "است که تابستـان امسـال بـا حضور بيش از ۱۶۰۰ تن از اعضای پـارلـمـان، مجلس سنا، علما و مقامات عالي رتبه دولتي و متنفذان قومی در کابل برگزار شد.
"برهان الدين ربانی "رئيس ايـن شـورای ۶۸ نفره انتخاب شده است.

امريکا د افغانستان په مسله کې ...

موږ وويل (يه). موږ دا په رسميت پېژنو چې ايران له اوږده، تقريبـاً پـرانستـې سرحد اود مخدرو مـوادو لـه لـويـې ستونزې سره بايد د افغانستان د لانـجـې په سوله ييزحل کې رول ولري.تراوسـه چې امريکا هلته شته د دوی د حضـور په برخه کې کومه ستونزه نه لري."
د امريکا متحدو ايالتونو يونيم وخت پـر ايران د افغانستان د حکومت د وسـلـه والو مخالفانو د ملاتړ تور لگولی خو د کابل حکومت تل د ايران پر لاسوهـنـو سترگې پټې کړي او د انتقاد گوتـه يـې يوازې پاکستان ته نيـولـې ده.ځيـنـې کتونکي د دې علت دا بـولـي چـې د کابل په حکومت کې ايـرانـي پـلـوه عناصر زيات نفوذ لري.
ايران د افغانستان په کورنيو چارو کـې لاسوهنه ردوي او وايي چـې د هيـڅ وسله والي ډلې ملاتړ نه کوي خو پـه عين حال کې په افغانستان کې د امريکا په مشرۍ د لوېديځو ځواکونو حضـور د افغانستان د بې ثباتۍ د دوام سـبـب بولي.
خو ډېر سياسي څارونکي وايـي چې ايران د افغانستان يوشمېر خاصې وسلـه والي ډلې روزي او په وسلو او پيسو يـې سمبالوي څوخپل دښمن امريکا تـه پـه افغانستان کې گوزار ورکړي.د دوی په وينا ايران په عين حال کـې دا هـم نـه غواړي چې يوه ورځ طالبان بيا واک ته ورسېږي.
هولبروک خبريالانو ته وويل چې پـه دې غونډه (روم) کې له ايـران سـره د امريکا يـوځـای گـډون بـه د دواړو خواوو پرنورو اړيکو هيڅ راز اغېز ونـه لري او نه به د ايران او امريکـا پـر دوه اړخيزو اړيکو کې کوم بدلون راولي.

د بن لادن د اوسېدو ځای ورمعلوم ...

سي اين اين د ناټو د يوه چارواکي په قول چې نوم يې نه دی افشا شوی، ويلي: "د القـاعـده شبکې هيڅوک د غرو په سـمـڅـو کـې نـه اوسي."
د سي اين اين په راپور کـې هـمـداراز ويـل شوي: "دغه مقام همداراز د امريکا د متـحـدو ايالتونودا ارزيابي تاييد کړه چې د طـالـبـانـو مشرملاعمرپه وروستيو څو مياشتـو کـې د کوټې او کراچې د ښارونو تـرمـنـځ د تـگ راتگ په حال کې دی."
سي اين اين وايي چې "سرچينه (د ناټو مـقـام) څکه نه ښيي چې پـه دې مـوضـوع کـې استخباراتي حساسيتونه نغښتي دي."

بهترين راه آوردن مخالفين به ...

صلح در آن صورت خواهد گـرفـت، عـقـب نشينی نخواهند کرد.
او گفت:
«بهترين راه آوردن مخالفين به ميز مـذاکـره، وارد کردن فشار نظامی بالای آنان است، ايـن به معنی آن است که نيروهای ما و قوای افـغـان هيچ گاهی قصد بيرون شدن از مـنـاطـقـی را ندارند که در آن احتمالاً گفتگو هـای صـلـح صورت می گيرد. ما از هيچ محلی نـيـروهـای خود را خارج نخواهيم کرد.»
با اين همه جنرال بـلاتـس مـی گـويـد، کـه نيروهای ناتو در اين روند به طـور مسـتـقـيـم دخيل نيستند، شورای عالی صلح و در مجموع دولت افغانستان را در تلاش های شان به هدف مصالحه حمايت می کنند.
آقای بلاتس در سخنان خود به اين نکـتـه هـم اشاره کرد، که مخالفان مسلـح کشـور بـرای اجرا کردن عمليات خود امکانات مالی پيشيـن را در توان ندارند.
جنرال بلاتس همچنان می گويد، که آنان نيرو های خود را در مناطقی مستقر می کنند که در حال حاضر تحت کنترول طالبان است.
شورای عالی صلح حکومت نيز تا انـدازه يـی گفتار ناتو را تاييد می کند، و می گويد که بـه پيشبرد عمليات نظامی نيز ضرورت است.
گفته های دوام عمليات بـه هـدف بـرقـراری صلح در افغانستان در حالی بيان می گردد، که شورای عالی صلح تلاش می کند کـه بـرای گفتگو با مخلفان مسلح حکومت يک مکانيزم آماده نمايد.
با آنکه مخالفان مسلح کشور اين تلاش هـا را غير موثر می دانند اما اعضای اين شورا به ايـن باور اند که گفتگو با مخالفان مسـلـح کشـور امکان پذير است.

د نړيوالو ځواکونو قانونمند ...

رباني امريکا غږ ته ويلي چې په افغانستان کـې د بهرنيانو قانون مند کول د سـولـې پـه گـټـه تماميږي او دا کار چې څومره ژر کيدای شـي بايد وشي. رباني دغه راز ټينگار کـړی چـې حکومت بايد په ځان فشار راوړي څـو خـپـل ملي ځواک پياوړی او د هيواد ساتنې جـوگـه کړی شي.

افغان دولت له ناټو سره د گډې ...

مشوره نه کېږي.
د ناټو ځواکونو يوه ويانـد د افغانستان د مـلـي امنيت د دې څرگندونو په بـاب ويـل چـې دوی مخکې تر دې چې په دې اړه خپل نـظـر څرگند کړي هڅـه کـوي چـې لـومـړی د افغانستان د ملي امنيت د اعلاميې کاپي ترلاسه کړي.
خو د ولسمشر کرزي وياند وحيد عمر وويـل چې د افغانسيتان د ملي امنيـت شـورا هـدف خامخا دا نه دی چې په دې برخـه کـې نـاټـو ځواکونه ملامت کړي چې له افغان مقـامـاتـو سره يې سلا مشوره نه ده کړې بلکې هدف دا دی چې بايد د ستونزې د عـوامـلـو پـه بـاب تحقيقات وشي.
عمر زياته کړه، ممکن له دوی يعني افغـانـانـو سره سلا مشوره نه کېږي، يا کېدای شي دوی په دې موقعيت کې نه وي چې په پرېکړو کې نفوذ وکړي، يا ښايي دوی له خپـلـو وزيـرانـو سره وروسته سلا نه کوي.
د گډې عملياتي قـومـانـدې پـر کـار دا انتقادونه په داسې حال کې کېږي چې افغان او نړيوال ځواکونه له تېـرو دوو ميـاشـتـو راهيسې په کندهار کې پـراخ عـمـلـيـات کوي .دوی د کندهار ښـار پـه ځـمـکـو او ارغنداب کې له تصفيوي عملياتو وروسـتـه خپلې هلې ځلې ژړۍ او پنجوايي ولسواليـو ته غځولې دي.

پارلمان آستراليا بحث در مورد ماموريت افغانستان را آغاز کرد

راديو آزادی:
پارلمان آستراليا پس از حضور ۹ سالـهء ايـن کشور در افغانستان، با اختلاف نظر های روبرو شده است.
وکلای پارلمان اين کشور، بحث هـای را در مورد ماموريت افغانستان آغاز کردند.
مخالفت روی ماموريت افغانستـان، پـارلـمـان آستراليا را به دو بخش تقسيم کرده است.
يکی کسانيکه به جوليا گيلارد صدراعظـم آن کشور وابسته گی دارند و ديگر اعضای حـزب سبز های آستراليا که مخالف حضور نظامی در افغانستان اند.
خانم گيلارد پس از فشار ها، بـه درخـواسـت حزب مخالف آن کشور تسليم شده و بـه راه اندازی بحث های سه روزه در مـورد حضـور نظامی آستراليا در افغانستان توافق کرد.
صدراعظم آستراليا پس از آن که در انتخـابـات ماه اگست، هيچ يک از احزاب نتـوانستـنـد بيشتر کرسی های پـارلـمـان آن کـشـور را بدست آوردند، بيشتر به حمايت حزب سبـز تکيه می کند.
جوليا گيلارد و تـونـی ابـوت رهـبـر حـزب مخالف اين کشور گفته اند که امروز سخنرانی های در پارلمان آستراليا خواهند داشت تا برای حفظ و يا خروج نـيـروهـای ايـن کـشـور از افغانستان نظريات خود را ابراز کنند.
آستراليا در حدود يک هزار و پنجصد عسـکـر در افغانستان دارد و بيشـتـر آنـهـا در ولايـت ارزگان مستقر اند.
عساکر اين کشور به يک کنـدک نـيـروهـای افغان آموزش نظامی می دهند و گفته می شـود که اين ماموريت آنها دو تا چهار سال را در بـر خواهد گرفت.
مال واشر از حزب ليبرال آستراليا که عضويت پارلمان آن کشور را دارد و هم چنان انـدريـو ويلکای که يک وکيل مستقل است، گفـتـه اند که با طرح حزب سبز آستـراليـا تـوافـق دارند و نيرو های اين کشور بايد افغـانسـتـان را ترک کنند.
اوگ وايت، پروفيسر پوهنتون مرکز مطالعات استراتيژيک و دفاعی ملی آستراليا می گويد:
« اظهارات صدراعظم ايـن کـشـور کـه مـی خواهد با استقرار نيروهای نظامی در افغانستان، مردم آستراليا را حفاظت کند و نمی گذارد تـا افغانستان يک بار ديـگـر بـه پـنـاه گـاه امـن تروريستان مبدل شود، بسيار نامطلوب است.»
بر اساس گزارش ها، از آغـاز مـامـوريـت آستراليا تا حالا، ۲۱ عسکر ايـن کـشـور در افغانستان کشته شده اند و اين موضوع باعث شده تا حمايت مردمی از ايـن مـامـوريـت کاهش يابد.
آستراليا در ميان کشور های که عضويت نـاتـو را ندارند، بيشترين نيروی نظامی را بـه هـدف مبارزه با تروريزم به افغانستان فرستاده است.